سورګل خزان از کابل

# دبازار اقتصاد که د بازار فساد ؟!

تېرو تجربو او شواهدو وښودلې چې د ژوند انه بنسټ پر اقتصاد ولاړ دی او په نظام جوړونه کې تر بل هرڅه  ستر او اساسي رول لري، نو کله چې په یو هېواد کې اقتصادي نظام جوړېږي یا تاکل کېږي باید لومړی دټولنې ذهني او عیني شرایط او امکانات مطالعه اوله دې وروسته دهغه نظام په باب تصمیم ونیول شي، چې هغه باید د ټولنې او هېواد له شرایطو او حالاتو سره سمون ولري ، ځکه چې هر هېواد ځانته ځانګړي شرایط او هر اقتصادي نظام په خپل وار سره مشخصه او قانونمنده تاریخي مرحله لري که چېرې د ټولنې او هېواد شرایط اوامکانات  په نظر کې ونه نیول شي او دولت دخپلې خوښې او هوس یا دتقلید له مخې یو اقتصادي نظام غوره کړي او په ټولنه کې یې وتپي، لکه څنګه چې تجربو په ډاګه کړې  نه یوازې داچې دخلکو په اقتصادي ژوند کې به کوم مثبت او په زړه پوری بدلون رانه ولي بلکې له لا زیاتو ستونزو او بحران سره به یې مخ کړي او آن دا ډول سلیقوي او تقلیدي نظام پر ټولنیزو او فرهنګي چارو منفي او ناوړه اغېزه غورځوي او په ټولنه کې د بد امنیو ، بد اخلاقیو ، اقتصادی جرایمو ، اداري فساد اونورو ناوړه کارونو لامل ګرځي او د خپلسرو کسانو سرغړنو ته لاره اواروي لکه چې زموږ هېواد همدا اوس له دغه راز ناوړو او انکار نه منونکو حالاتو سره لا س او ګرېواو دیو لوي ناورین په لور روان دی . کله چې دطالبانو له ماتې وروسته دشخړو او جګړه په لمبو کې دیو څه وخت لپاره سوړ والی راغی د«بن» په غونده کې جوړ شوی دولت پرته له دې چې دجنګ ځپلي هېوادشرایط ، اقتصادي نظام قانونمنده او مشخصه مرحله او پر ټولنه باندې مسلط جنګي فرهنګ په نظر کې ونیسي او له افغاني تجربه لرونکو اقتصاد پوهانو

سره مفاهمه او مشوره وشي په ډېره بیړه یې دخپلې سلېقې یادځینو بهرنیو هیوادو په خوښه او سپارښتنه یو کاپي شوی اقتصادي نظام انتخات او د پانګوالی نړۍ پر پله یې پل کېښود ، دیو خیالي انځور په جوړولو سره یې سل کلنه اوږده لاره په یوه ورځ کې طی او ځان یې له لویدیځوسیالانو سره په خیالی دنیاکې سیال کړ، خوله بده مرغه په ډېر لږ وخت کې دبې کنترولہ اقتصادي نظام ناوړه او منفي اغېزې دټولنې پر اقتصادي ژوند راڅرګندې شوې اودبحران بنه یې ونیوله چې دحل اساسی لاره یې له دولت څخه ورکه شوې او نه پوهېږي چې څه وکړی ، ددې بې سره دانې د درملنې لپاره دځینو اقتصاد پوهانو په عقیده یوازنی نسخه داده، باید دآزاد بازار سیستم چې دافغانستان په وروستیو څو کلونو کې داقتصاد د په ټپه درېدلو تر ټولو ستر عامل دی او په اوسنیو شرایطو کې د پلی کېدو وړ نه دی له منځه لاړ شي او ځای یې «مختلط » اقتصاد سیستم ونیسي .

داقتصاد پوهانو ددادول نظریاتو ترټولو ښه او مهم مثال دحکومت په کابینه کې داقتصاد دوزیر جلیل شمس خبرې او څرګندونې دي چې ده ددې وزارت دتېرکال دکار اوفعالیت دحساب ورکونې پر مهال وکړې او په ډېر صراحت او جرئت سره یې وویل :« دبازار اقتصادي نظام داقتصادي زیر بنا وو دویجاړ حالت له امله دهېواد له اقتصادي وضعیت سره هیڅ ډول سمون او مناسبت نه لري ، ددولتي او زیر بنایي تصدیو خصوصي کول او خصوصي سکتور ته دهغو سپارل سم او مناسب نه ګڼم او همغږی ورسره نه لرم که څه هم زما په نظر دبازار اقتصادي سیستم له اقتصادي پلوه دخلکو له حالت سره سمون او مناسبت نه لري ، خو یوازې داساسي قانون دموادو پر اساس ددې نظام پر پلي کېدو ځان مکلف وینم داقتصاد وزیر دهېواد ویجاړ او ناسم اقتصادي حالت دآزاد بازار په چوکاټ کې ددولت دډېر ګړندي حرکت پایله وګڼله ».

په دې وروستيو کې دځينو نورو چارواکو ترژبې لاندې له څرګندونو ، ددولت له خوا دغنمو دپېرودلو ، په ښاروالى کې دبيو دکنترول درياست دتشکيل په باب له خبرو ، دملی شورا په طرحو کې دنورو مسايلو تر څنګ حکومت ته دغلو دانو دپېرودلو او زېرمه کولو او دسيلوګانو دبيا فعالولو په برخه کې له سپارښتنو او نورو نښو نښانو څخه داسې ښکاري ، دولت پردې ښه پوهېدلی چې اوسنی ستونزې دآزاد بازارد له بې کنترولە نظام څخه رازېږېدلی ، يو بحران او بد حالت يې رامنځ ته کړی او راتلونکی تياره او خطرناکه معلومېږې ، خو فکر کوم ددې حقيقت په پوهېدو سره سره هماغه دلېوه دلکۍ کيسه ده چې دولت دځينو مجبوريتونو له مخې کلکه نېولې او په خوشې کولو يې زړه نازړه دی حال دا چې دولت ته په کار دی چې ددې بحران دمخنيوی لپاره په واقع بينئ سره داقتصاد دوزيراو نوروتجربه لرونکو افغاني اقتصاد پو هانو دوړانديز ونو او نظرياتو او دعام ولس دغوښتنو په درناوۍ دآزاد بازار پرنظام نوي کتنه وکړي او ديو غوړيدلي او پرمختللی اقتصاد لپاره دچين داقتصادی سياست په پيروۍ له مختلط سيستم څخه چې په اوسنيو شرايطو برابر دی کار واخلي او خلک او هېواد له دې ناوړه او بحراني حالت څخه وژغوري .

28082008

www.ayenda.org